د هدایت الله هدایت ژباړه
د شپیګل آن لاین د انګریزي متن څخه

۲۰۱۱/۰۸/۱۴

# امریکا نور غرب ندی

په امریکا کي وروستنی مالي بحران دا وښودله چي په دې هیواد کي سیاسي جنون حاکم دی، متحده ایالات نن د سیاسي او اجتماعي پلوه یو ناکامه او شکست خورده دولت دی. اروپا باید په نهایت کي زده کړي چي څرنګه د خپل ځان ساتنه وکړي.

د نوي یمي لسیزی مخکي غرب یا د غربي نړۍ کلمه ځانته خپله معنی درلوده او خپل ګډ ارزښونه او هدفونه یې بیانول. ډموکراسي، عدالت او د خپلسرو او مستبدو دولتو څخه بیزاري هغه څه وه چي غرب د ولسونو و مخې ته ایښودل او هغوی یې په دې توګه په ځان پسي را کښول. خو نن سبا دا داستان نور زوړ سوی دی، غرب نور نسته. نن هرهغه څوک چي د امریکا او اروپا نوم یو په بل پسي اخلي ژبه یې ګنګوره کیږي. د هغه اصولو پر بنا چي غرب ورباندي سنجول کیدی د دې پسته نور امریکا یو غربي هیواد نه ګڼل کیږي.

امریکا اوس یو داسي هیواد ګرځیدلی دی چي دولتي نظام یې د یوه ممتازه ثروتمنده اقلیت په منګولو کي را ښکېل دی، یعني هغه سر اخیستی یرغلګر او میلیتاریستي اقلیت چي په تیرو لسو کلو کي یې دوو پرخرڅه او خونینه جنګونه یې اور واچاوه. امریکایي ټولنه هم یوه داسي ټولنه ده چي د سیاسي او ټولنیزو اختلافاتوپه وجه د یوې عظیمي درې په څیر دوې پلې سوې او سره شلیدلیده. داسي ټولنه چي د هغې ایدیالوژیک روند توب، د ډیموکراسی د اصلي او بنیادي هدفو څخه چي سوله او مصالحه یې مغزن جوهر دی، لیرې ساتل کیږي.

امریکه نن بدله سوې او خپل ځان یې د غرب څخه لیرې کړی دی. د دې ثروتمنده هیواد اجتماعي شو په شو کیدل واقعاً حیرانوونکی دی. امریکایي اقتصاد پوه د نوبل د جایزې ګټونکی جوزوف سټګلتیز ( Joseph Stiglitz ) وایي چي په امریکا کي ددې هیواد د ټول ثروت د خلورو څخه یوه برخه د یوې کوچنۍ ثروتمندي ډلې په لاس کي ده. دغه ونډه په تیرو ۲۵ کلو کي په سلو کي ۱۲ وه خو نن د امریکا د ټول ثروت په سلو کي ۴۰ همدوی لاندي کړی دی.
سټیګلیتز وایي چي په اصطلاح د دریمي نړۍ په هیوادو کي د شتمن او غریب ترمنځ واټن څه ناڅه کم سوی دی خو برعکس په امریکا کي بیا دغه واټن اوس تر هر وخت زیات لیدل کیږي.

د نوبل د جایزې یو بل ګټونکی امریکایي اقتصاد پوه پاول کروګمان ( Paul Krugman)، وایي چي امریکا ځان د موز د جمهوري په نامه بنیي (status of a banana republic). نن د دریمي نړۍ ولسونه او ټولني امریکا ته په کره خوله ګوري او هغه ته بې تفاوته دي، دغه څه نن د امریکا اصلي جوهر بیانوي چي د امریکایي ټولني د تاش په تاش کیدو و پروسې ته لا نوره هم چټکتیا ورکوي. هر څونه چي د نه تعادل نشتوالی ډیریږي په هماغه اندازه د عمومي رفاهیت په را وستو کي د ثروتمندانو ګډون کمیږي. تاسي وګورۍ کله چي د اپل (Apple)غوندي د یوې کمپیوټري موسسي مالي ذخیره د ۷۶ میلیارډه ډالرو څخه اوړي، یعني پخپله د واشنګټن د مرکزي دولت د مالي ذخیرې نه لا زیاته، خو جمهوري غوښتونکي بیاهم پر هغوی باندي د مالیاتو د ډیرېدو سره مخالفت کوي. دې کار نن یو اروپایي هیښ کړی دی او په حیرانتیا سره هغه ته ګوري، هغه دا کار د خپل ځان وهل بولي او د خپل نظام تخریب یې هم ګڼي.

همدا وضعه د امریکا د شوربدلي سیاسي فرهنګ سره هم صدق کوي چي لا اوس هم په ایالاتو کي استحقاقونه ورځ تر بلي کمیږي خو بیاهم ځان د امریکا متحده ایالتونه بولي. د امریکا په سیاسي مباحثو کي د دولت څخه د « کرکي او نفرت» احساس یو ورځنی امر ګرځیدلی، خو په عین حال کي د خلکو غولونه، د هغوی سره د چل او فریب کردار د سیاسي خرد او تعقل ځای نیولی دی. نن د مالیاتو کمیدل و یوه بت ته ورته کیږي چي باید ومنل سي او د دولت څخه لیرتوب اوس په یوې ایدیالوژۍ باندي را اوړي. د امریکا په دې نوې کورنی جګړه کي لا دوخته د جمهوري ریاست و مقام ته هغه پخوانی احترام د منځه تللی دی.

خو په افق کي د نجات او خلاصون لاره نه لیدل کیږي. په امریکا کي نور څوک وسیاست ته اعتبار نه ورکوي. وکیلان او سناتوران د ثروتمندانو په خدمت کي راغلي او دهغوی پر اعانو باندي اتکاء لري. داسي څه هم نه لیدل کیږي چي د


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په خیر و لولـئ

«باستيل د زندان» په څير به يو انقلابي پاڅون تر سره سي. د خلکو خښم زياد دی، خو ډېر وخت کيږي چي رهبران په دې توانيدلي دي دغه خښم کنټرول کړي. دغه رهبران د« ټي پارټي» د سياسي جنبش مبتکر ډېويډ او چارلز کخ دوه ميلياردره وړونه او روپرټ مرډاک د« فاکس نيوز» د شر اچوني ټلويزون د لاري دهغوی په خدمت کي راغلي او د هغوی تبليغاتي ارګان ګرځيدلی دی.

دغه ټوله څه چي نن په امريکا کي تيريږي و اروپايانو ته يو بل شاني سياسي فرهنګ ايسي. د يوه بل شاني قواعدو او مقياساتو سره. هغوی ته دا ټول عجيب ښکاري. اروپايان داسي انګيري چي هغه څه چي پر امريکايانو راغلي ده هغوی ته د خطر زنګ دی. هغوی وايي چي موږ بايد خپل سياسي فرهنګ، خپل اساسات او خپل هيواد ددې خطر په مقابل کي وساتو.

اروپايان وايي موږ بل شاني يو خو د امريکا سرنوشت په عين حال کي زموږ دپاره يو چانس هم دی، او هغه دا چي هرڅونه چي د امريکا څخه پرديتوب يا بيګانګي ډېريږي. په هماغه اندازه موږ بايد زده کړو چي څرنګه د يوه اروپايي غوندي فکر وکړو. هغوی وايي غرب موږ يو!

پای


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ